# کونړ د څو اريايي ژبو ګډ ټاټوبے

Kunar, a share homeland for several Aryan Languages

Abdul Qayum Mashwan*

## Abstract:

Kunar is one of the eastern provinces of Afghanistan. The common language for educational, preaching, Jirga, market, commercial and other related affairs is Pashto; however, in the mountainous valley of this province, the names of several other languages are observed. These languages include Pashto, Digani, Gujari, Guri, Paluri (Sawi Accent), Nuristani, Shumashti, Pashayee, Kurangi, Nanglami and Chalsi, which are being spoken in different areas of the province.

It is difficult to account some of the languages as independent language; in some references, Shomati is introduced as an independent language; however, as per my information, Shomati is an accent of Pashayee Language, not an independent one.

The residents of Shomat and Arait villages speak the same accent with very little difference. Therefore, we claim that it is an accent of Pashayee Language. Chalsi has some differences with Shomati; however, the speakers of both language can make conversation to each other. Kerangi is spoken in a small valley in Paych. Kurangi language has not been investigated so far, but as per some information, it is also an accent of Pashayee Language.

Some of these languages are very small, which are spoken in limited villages. For instant, Paluri (Sawji) Language is only spoken in one village of Nawar district. The people in the village call this language as Sawji. Digani/ Watapori Language is spoked by few people in one village (Kata Kala). Shomati is spoken in Mazar Valley in Shomat and Arit Villages.

Some of these languages loses its speaker every day and its speakers choose to shift to Pashto Language; therefore, it is important to systematically study these language and provide essential information to the interested people.

کونړ د افغانستان يو شرقي ولايت دے. د کونړ د درس و تعليم، وعظ و نصيحت، جرګې مرکې، بازار، سوداګرۍ او نورو ژوندچارو عمومي ژبه پښتو ده؛ خو د کونړ په اوږده غرنۍ دره کښې تر لسو زياتې ژبې ويل کېږي. دغه ژبې پښتو، ګوجري، ګوري، پالوري (ساوي لهجه)، نورستاني ژبې، دېګاني، شوماشتي، پشه يي، کرنګلي يا کوړنګلي، ننګلامي او چلسي دي، چې د کونړ په بېلابېلو کوچنيو درو کښې ويل کېدې يا ويل کېږي.

* Associate Professor Academy of Sciences Kabul, Afghanistan

د ځينو په اړه د جلا يا مستقلې ژبې حکم کول يو څۀ ځيرنه غواړي، لکه په ځينو مأخذونو کښې شوماشتي او پشه يي جلا ژبې ګڼل شوې دي؛ خو د ځينو معلوماتو او څېړنو له مخې شوماشتي د پشه يي ژبې يوه لهجه ده، نۀ جلا ژبه. د شوماشت او اريت کليو اوسېدونکي له ډېرو لږو تغيّراتو پرته په يوه لهجه ګړېږي، چې هغه د پشه يي يوه لهجه ده.

چلسي(čalasi) بيا له شوماشتي سره يوڅۀ توپير لري؛خو وګړي يې په خپلو کښې پوهاوے کولے شي.

کړنګلي (kṛangali) د پيچ د لويې درې په يوه کوچنۍ فرعي دره کښې ويل کېږي، چې کوړنګل يا کړنګل نومېږي. کړنګلي تر اوسه نۀ ده څېړل شوې؛ خو د ځينو معلوماتو پر بنسټ کړنګلي هم د پشه يي يوه لهجه ده. د ننګلامي (ningalāmi) خو له نامه پرته نور هيڅ معلومات په لاس کښې نشته.

د کونړ له دغو ژبو ځينې داسې کوچنۍ دي، چې يوائې په يوۀ، دوه يا درې. څلورو کليو کښې ويل کېږي. د ساري په ډول پالوري pālori(ساوي لهجه) ژبه يوائې د ناړۍ ولسوالۍ په يوه کلي (ساوsāw) کښې ويل کېږي. ساوي د سيمې وګړي او په خپله د ژبې ويونکي ساوجي sāwji او ساووجي sāwūji بولي. دېګاني ( degāni) يا وټه پوري هم يوائې په يوه کلي (کټارکلا kaṭār kalā) کښې د څو کسو په خولو کښې په نيمژواندي حالت کښې ده. ۱ شوماشتي(šūmāšti) يوائې د مزار درې په (شوماشت šūmāšt) او اريت (aret) کليو کښې ويل کېږي. ۲

نورستاني که څۀ هم يوائې د يوې ژبې په نامه يادېږي؛ خو نورستاني اوسمهال يوه ژبه نۀ ده او هغه معيار چې د يوې ژبې او لهجې د بېلتون لپاره منل شوے، له هغۀ سره سم هره نورستاني لهجه د جلا ژبې معيارونه پوره کوي؛ نو اوسمهال ژبپوهانو نورستاني څلور جلا ژبې بللې چې دا دي: (کته وېري، کلښه الا، اښکون وېري او پرسوني.)۳

له دغو ژبو څخه ځينې ورځ تر بلې خپل ويونکي بايلي او خپل ځاے نورو ژبو په ځانګړي ډول پښتو ته پرېږدي؛ نو د پورته يادو شويو ژبو ژور او منظم څېړل او د ژبو او ادبياتو مينه والو ته وړاندې کول له اهميت څخه ډک او ډېر اړين کار دے.

په همدې ډول ډېر خلک تر اوسه ساوي او ګوري( په ولسي وينا ساوجي او ناړوجي) يوه ژبه ګڼي؛ خو د دغو دواړو ژبو ويونکي پخپلو کښې ښايي په سلو کښې تر لسو زيات يو د بل په خبرو پوه نۀ شي. ژبپوهانو هم دغه دواړه ژبې په جلا نومونو ثبتې کړې دي. ان چې دغه دواړه ژبې د داردي ژبو له يوه ښاخ څخه هم نۀ دي. ګوري ژبه د مرکزي داردي ژبو په سوېلي څانګه پورې اړه لري، په داسې حال کښې چې پالوري د ختيځو (خاص داردي) ژبو په شينا څانګه پورې اړه لري.

همدا رنګه زما د څېړنې ( له پښتو سره د ګوري او ساوي ژبو اړيکې او پرتلنه) له مخې هم دغه دواړه له شک پرته جلا ژبې دي؛ نو ناعلمي ادعاوې او ولسي روايتونه علمي حيثيت نۀ لري.

همدا رنګه پرعکس ځینو مأخذونو شوماشتي د جلا ژبې په توګه ثبته کړې ده، ځینې خو لا د اربت پشه يي هم د (اريتي) په نامۀ جلا ژبه ګڼي. د وروستيو څېړنو له مخې(د شوماشتي په اړه ما د افغانستان په علومو اکاډمۍ کښې د علمي مکلفيت يو کنفرانس وړاندې کړے دے) د شوماشت او اربت خلک په پشه يي ژبه غږېږي او د چاپېريالي شرايطو پر بنسټ يې د پشه يي د يوې ځانګړې لهجې بڼه غوره کړې ده؛ خو د جلا ژبې معيارونه نۀ شي پوره کولے.

په کونړ کښې له پښتو او ګوجري ژبې پرته نورې تولې ژبې پر داردي ګروپ اړه لري. داردي ګروپ د نورستاني ژبو په ګډون په مجموعي ډول په خپلو کښې د غږيز نظام له مخې ډېر زيات ورته والے لري. يعنې د دغو ژبو غږونه سره ډېر ورته او د شمېر له مخې هم کابو يو هومره دي.

له دېګاني پرته د داردي ګروپ هغه ژبې چې په کونړ کښې ويل کېږي، زياتره يې يو ځانګړے غږ لري چې په پښتو، دري او نورو ژبو کښې نۀ شته. زما په اند دېګاني ژبې به هم په راوروسته وختونو کښې دغه غږ بايللے وي؛ ځکه چې دېګاني اوس دغه غږ نۀ لري. د دغۀ غږ د ښودنې لپاره څېړونکو په فونيټيک کښې (ʎ) ګرافيم غوره کړے دے. په مروج ليکدود کښې د دغۀ فونيم د ښودنې لپاره (لهـ ، ڵ، ڶ او ش) ګرافيمونه کارېدلي دي.

زۀ هم د همدې وروستي ګرافيم غوره کول منطقي کار بولم، ځکه چې د وتونځي د نږدېوالي له مخې دغه غږ د (ش، ښ) غږ ته نږدې دے. دغه فونيم د کلمې په سر، منځ او پاې درېواړو کښې راتلے شي، لکه: په ترتيب سره د توت (شنګاليک ʎangālik)، اوښکه (انشوکànʎuk) او زوے (پوش pūʎ) په کلمو کښې.

د کونړ په پالوري (ساوي لهجې) او ګوري ژبو کښې يو بل ځانګړے غږ (ڇ ĉ) هم شته؛ خو څرنګه چې د دې ژبو په اړه تر اوسه ډېرې څېړنې نۀ دي شوي؛ نو د دغۀ غږ په اړه هم تر اوسه ډېر څۀ نۀ دي ويل شوي. د ځينو بهرنيانو په ليکنو کښې هم د دې غږ د ښودنې لپاره ځانګړے ګرافيم کارېدلے چې له (چ= č) ګرافيم سره څرګند توپير لري. د (چ) لپاره هغو په فونيټيک کښې (č) کارولے؛ خو د دې فونيم د ښودنې لپاره ځينو بيا تر c لاندې ټکی ورکړی دی[٤] او ځينو (ڇ = ċ ) ګرافيم کارولے دے.[٥]

ملا ادينه شاه چې د ګوري ژبې ويونکے دے، هغۀ هم د دغۀ غږ لپاره لومړے ځل(چهـ) ګرافيم کارولے دے -[٦] په يوۀ بل اثر کښې د دغۀ غږ د ښودنې لپاره(ڇ) ګرافيم کارول شوے دے -[٧] دغه غږ د انڇي (anĉi) يعنې (سترګه) او دراڇ(drĉā) يعنې(انګور) په کلمو کښې د تشخيص وړ دے. ما په خپلو څېړنو کښې د دغۀ غږ د ښودنې لپاره په معمول ليکدود او فونيټيکه الفبې کښې (ڇ = ĉ) کارولي دي.

په داردیک ژبو کښې غُنه کارول هم ډېر اهمیت لري. په ډېرو ځایونو کښې د معنے د تغییر لامل هم ګرځي. د ګوري د (لوښونګ lawṣʊng) یعني هوږه په کلمه کښې د (نګ) تر کلستر د مخه غنه د تشخیص وړ ده. همدارنګه د ګوري ژبې د (کیرون) او (کیریتون) په کلمو کښې چې د (وکړې) او (کړے دے) معنې لري غنه(ں) شته دے - ۸ د غنې په پام کښې نۀ نیول معنوي تغییرات رامنځ ته کوي.

د یادونې وړ ده چې غنه په داري ګروپ ژبو کښې زیاتره د کلمې په پاے کښې یا د پاے تر سپلاب د مخه راځي.

ځیني کسان وایي چې ګوري او پالوري ژبه د (ښین ṣ) غږ نۀ لري، خو دا لویه تېروتنه ده. په دغو دواړو ژبو کښې دا غږ شته او تر (شین) زیات مشدد تلفظ کېږي. په بله وینا د کندهارۍ لهجې له تلفظ سره سمون لري. د پښتو په څېر په داردي ژبوکښې هم په سمه بڼه د (ښ) تلفظ خورا مهم دے. د (ش) په بڼه یې تلفظول د معنوي تغییر سبب کېږي. په ګوري کښې (لوښه) سېرلي ته وایي که د (لوشه) په ډول ولیکل او تلفظ شي، نو خپله معنی له لاسه ورکوي او بې معنی کلمه ترې جوړېږي.

ومو ویل چې په ګوري او پالوري ژبه کښې د (ښ) تلفظ د کندهار له لهجې سره سمون لري؛ خو دا په هغه صورت کښې چې ویے د ګوري یا پالوري ژبې خپل وي. که چېرې ویے له پښتو پور شوے وي؛ نو بیا یې د سیمې د پښتو له لهجې سره سم په (خ) تلفظ کوي لکه په ښار(خار)، ښامار(خامار)، پښتون(پختون) او نورو کښې.

د یادولو وړ ده چې په نورستاني ژبو کښې یو ځانګړې غږ شته چې مشدد(وّ) یې بللے شو. دغۀ غږ په پالوري او ګوري ژبه کښې نشته. په نورستاني ژبو کښې دا غږ د هلکه! (وّړه wəṛa!) په کلمه کښې د تشخیص وړ دے؛ خو دا غږ په (الفباے نورستاني) کښې نۀ تر سترګو کېږي- ۹ البته په ( الفباے زبان پشه یي) کښې(وّ) ګرافیم شته چې ښایي د همدې غږ د ښودنې لپاره یې ټاکلے وي - ۱۰

ښایي د ډېرو لږو غږیزو توپیرونو تر څنګ د نورستاني، پالوري اوګوري ژبو د فونیټیک توپیر په همدغۀ یوۀ غږ کښې رالنډ کړو. زما د څېړنو له مخې په ساوي، ګوري، پشه یي او دېګاني ژبو کښې مشدد (وّ v) نۀ شته.

داردي ژبې هم د پښتو په څېر په ساکن پیل لري، لکه د ګوري د ورور(بلیا blyā) وراره (بلاوش blāwaɤ) دېوال (ډیانډۀ ḍyānḍnə)؛ د پالوري د انګور (دراچā drĉā) ورړه (پروشو ک prošūk) ورور (براُ brō) ورېره(براُودي brōwdi)؛ د دېګاني د انګور (لیاش lyāš) غونډل (غونډل ɤwənḍəl) او مېرمن (زوی zūy) او د پشه یي د کوکرے (پلوړه plūṛa) خلک (پلل pləl) په کلمو کښې چې په ساکن پیل شوې دي.

باید ووایو چې د کونړ د کلیو او درو د نومونو ریښې که له آریک او سنسکریټ ژبو راوروسته په

ژونديو ژبو کښې لټوو؛ نو تر ډېره بايد د داردي ژبو په دې ګروپ کښې ولټول شي؛ ځکه د آريک او سنسکرېټ ژبو ډېرې ځانګړنې او وييونه لا تر اوسه د دې ګروپ ژبو ساتلي دي. په کونړ کښې د ډېرو کليو او درو نومونه په ګل (gal) ګرام (grām) دېش (deš) ګام (gām) لام (lām) او پور (pūr) پای ته رسېږي، لکه: نورګل (nūrgal) دېوه ګل (dewàgal) کړنګل (kṛangal) وايګل (wāygal) شيګل (šigal) کاڅه ګل (kācàgal) ايلګل (Ilgal) نانګل (nāngal) شېرګل (šergal) چيره ګل (čiràgal) بشګل (bašgal) کرچيګل (karčigal) رامګل (rāmgal) کلايګل (klāygal) پتيګل (patigal) انچه ګل (ančàgal) کوليګرام (kūligrām) پڅيګرام (pacigrām) نيشيوګرام (nišiwgrām) کامدېش (kamdeš) ممدېش (mamdš) وردېش (waràdeš) ځمامېش (ǰmāmeš) بارګام (bārgām) نېشه ګام (nešàgām) دانګام (dāngām) خلقلام (xalàqlām) لنډه لام (lenḍàlām) رېچلام (rečàlām) سملام (samàlmām) سلامپور (salāmpūr) وټه پور (wəṭàpūr) او نور.

هغه خلک او په ځانګړي ډول صحافيان چې له دې سيمې او نومونو سره اشنا نۀ وي؛ ډېر ځله د کليو او درو په نومونو کښې (ګَل gal) په (ګُل gwəl) تلفظوي او په دې ډول لويه تېروتنه رامنځ ته کېږي.

په يوه کوچنۍ مقاله کښې د کونړ د ټولو ژبو بشپړ معلومات نشي وړاندې کېدلے، د وخت او امکاناتو کمے هم د ټولو ژبو د پرتليز جاج اجازه نۀ راکوي؛ خو د پالوري، ګوري، پشه يي او دېګاني ژبو په جوړښت د څۀ ناڅۀ پوهېدنې لپاره لنډ پرتليز ګرامري معلومات وړاندې کوم.

د يادولو وړ ده چې پالوري او ګوري د سيمې وګړي او پخپله د ژبې ويونکي د ساوجې او ناړوجي په نامۀ يادوي.[11]

## ستاينوم او ستايلے

په داردي ژبو کښې ستاينوم زياتره د ستايلي تابع وي او تر ستايلي د مخه راځي، لکه:

| پښتو | ګوري | پالوري | دېګاني | پشه يي |
|---|---|---|---|---|
| سور چرګ | lotrə kūkūṛ<br>لوترۀ کوکوړ | lohilo bõngi<br>لوهيلو بأُنګي | lūtūr kūkūṛ<br>لوتور کوکوړ | ṣonik kūkūṛ<br>ښونيک کوکوړ |
| سره چرګه | lotri kūkūṛi<br>لوتري کوکوړي | lohili kūkūṛi<br>لوهيلي کوکوړي | lūtūr kikəṛ<br>لوتور کيکړ | ṣonič kūrayi<br>ښونيک کوره يي |
| ښکلے کور | šūbānə amo<br>شوبانۀ امو | šūbāno goš<br>شوبانو ګوش | šūbān goṭ<br>شوبان ګوټ | sodorā gošing<br>سودورا ګوشينګ |
| ښکلې ښځه | šūbāni šigāli | šūbani ʒiri | šūbān zūy | sodori zayip |

شوبانۀ شیګالي   شوباني شیږي   شوبان زوی   سودوري زی یف

## د ستاینوم درې ګونې درجې

د پښتو او درې په څېر په داردي ژبو کښې هم د صفت درې ګونې درجې شته، لکه:

| پښتو | ګوري | پالوري | دېګاني | پشه يي |
|---|---|---|---|---|
| ښه | bay<br>بی | bōlo<br>باُلو | ......... | bakār<br>بکار |
| ډېر ښه | law bay<br>لو بی | čàṭo bōl<br>چټو باُلو | ......... | bo bakār<br>بو بکار |
| تر ټولو ښه | somiyà penə bay<br>سومییه پینۀ بی | pakūndà bōlo<br>پکونده باُلو | .......... | jama day bakār<br>جمه دی بکار |

## نسبت (اضافت) او ملکیت

د داردي ژبو نسبتي او ملکي ترکیب داسې دے، چې لومړے نسبت شوے (مضاف الیه) بیا د نسبت تورے او ورپسې نسبت توکے (مضاف) راځي، لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پښتو: | د احمد معلم قلم | د حسن خان وزه | د ګل بي بي ږمنځ |
| ګوري: | aẖmad maçlımà na qalàm<br>احمده معلمه نه قلم | ẖasanxāna na hini<br>حسن خانه نه هیني | gwəl bibi ya ne kingi<br>ګل بي بي يه نې کینګي |
| پالوري: | aẖmad maçlıme qalàm<br>احمد معلمې قلم | ẖasanxāne čhōli<br>حسن خانې چهالي | gwəl bibiye kingay<br>ګل بي بي يې کینګی |
| دېګاني: | aẖmad maçlıman qalàm<br>احمد معلمن قلم | ẖasanxānan syāl<br>حسن خانن سیال | gwəl bibiye gmanǰ<br>ګل بي بي يې ګمنځ |
| پشه يي: | aẖmad māçlımas xalàmi<br>احمد معلمس خلمي | ẖasanxānas pṛāiki<br>حسن خانس پاړیکي | gwəl bibis kūškyaṭ<br>ګل بي بیس کوشکیټ |

د نسبت او ملکیت توري په ګوري کښې د نرینه لپاره (نه na) او د ښځینه لپاره (نې ne) دے. په پالوري کښې د نرینه لپاره (ې e) او د ښځینه لپاره (و o) دے. په دېګاني کښې د نرینه او ښځینه دواړو لپاره (ن an) دے. په پشه يي کښې د نرینه او ښځینه دواړو لپاره (س as) دے. په شوماشتي کښې هم د نرینه او ښځینه دواړو لپاره (س as) دے. ۱۲

## شمېر (عدد) او شمېرلے (معدود)

د داردي ژبو د شمېر او شمېرلي جوړښت داسې دے، چې لومړے شمېر او ورپسې شمېرلے

راځي؛ خو د پښتو پر خلاف لومړنۍ يو شمېر په ټولو ژبو کښې د جنس له مخې نهٔ ګردانېږي، لکه:

| پښتو | ګوري | پالوري | دېګاني | پشه يي |
|---|---|---|---|---|
| يو قلم | yak qalam<br>یک قلم | yak qalam<br>یک قلم | yak qalam<br>یک قلم | Ie qalam<br>اې قلم |
| يوه مڼه | yak bobay<br>یک بوبی | yak maṇo<br>یک مڼو | yak maṇà<br>یک مڼه | Ie seb<br>اې سېب |
| يوه نجلۍ | yak tikuri<br>یک ټيکوري | yak poy<br>یک پوی | yak niyāṛ<br>یک نيارِ | Ie kiḍalik<br>اې کيډاليک |

له پشه يي پرته په درېواړو(ګوري، پالوري او دېګاني) کښې د نرينه او ښځينه دواړو لپاره yak راغلے دے. همدا رنګه په پشه يي کښې هم Ie د دواړو جنسونو لپاره راغلے دے؛ نو په داردي ژبو کښې د شمېر لومړنۍ دوه شمېرې د شمېرلي له مخې د پښتو غونډې نهٔ ګردانېږي.

## انګينومونه

انګينومونه (صوت نومونه) هم کابو په ټولو داردي ژبو کښې کټ مټ د پښتو غونډې دي، لکه:

درز دروز، ګړب ګړوب، ترپ تروپ او نور.

| | | |
|---|---|---|
| پښتو: | د بمبار درز دروز مو اورېدهٔ. | باران وشو؛ خو اسمان ډېر ګړز ګړوز کاوهٔ. |
| ګوري: | bambārà na dràz drūza šunḍimān bok.<br>بمباره نه درز دروز شونډيمان بوک. | wāš būwà xo lari law gṛàz gṛūz kemān būwà.<br>واش بووا خو لري لو ګړز ګړوز کېمان بووه. |
| ساوي: | bambārə dràz drūz bude.<br>بمبارۀ درز دروز بودې. | bāš bilo xo asmōṇe gṛàz gṛūz čaṭi ali.<br>باش بيلو خو اسمأنې ګړز ګړوز چټې الي. |
| دېګاني: | ................................ | ...................................................... |
| پشه يي: | bambāres dràz drūz areyačis.<br>بمبارېس درز دروز اربيه چيس. | wāš bik asmanas bo gṛàz gṛūz awəeše.<br>واش بيک اسمانس بو ګړز ګړوز اوۀ ابشې. |

په پورتنيو جملو کښې ليدل کېږي چې د درېواړو داردي ژبو انګينومونه کټ مټ د پښتو غونډې دي.

## لنډ او لر ستاينوم

د دادري ژبو د لنډ او لر ستاينوم جوړښت هم د پښتو غونډې دے، يعنې په لرستاينوم کښې ستاينوم تر ستايلي وروسته راځي، لکه:

| پښتو | ګوري | پالوري | دېګاني | پشه يي |
|---|---|---|---|---|
| توره تخته | kānci taxtà | kašaṇo tàxto | kyāl taxtà | šamik taxtà |

| | کانځي تخته | که شه ڼو تختو | کیال تخته | شمیک تخته |
|---|---|---|---|---|
| تخته توره ده | taxtà kānci tini.<br>تخته کانځي تیني. | tàxto kašaṇo hino.<br>تختو که شه ڼو هینو. | taxtà kyāl ti.<br>تخته کیا تي. | taxtà šamik še<br>تخته شمیک شي. |

د کونړ د داردي ژبو لږ ستاینوم یواځې د ځواب ورکولو پر مهال تر ستاینوم وروسته راځي؛ خو په عام ډول ستاینوم تر ستایلي وړاندې راځي.

### پوړشمېر

د داردي ژبو د پوړشمېر (رتبي عدد) ترکیب داسې دے چې لومړے شمېر او ورپسې شمېرلے راځي، لکه:

| پښتو | ګوري | پالوري | دېګاني | پشه یي |
|---|---|---|---|---|
| لومړۍ ډله | awal ḍala<br>اوله ډله | awalanəy ḍalo<br>اولنۍ ډلو | mūjk ḍalà<br>موجک ډله | awàl wali ḍalà<br>اول ولي ډله |
| وروستنۍ ګروپ | patàki grūpà<br>پته کي ګروپه | mokšino grūp<br>موکشینو ګروپ | pasiye ḍalà<br>په سییې ډله | pača ḍalàwalā<br>پچه ډله وله |

### اټکل شمېر

داردي ژبې اټکل شمېر(تخمیني عدد) هم لري. په اټکل شمېر کښې یې لومړے کوچنے عدد او ورپسې لوے عدد راځي، لکه:

| پښتو | لس یولس | خلوېښت پنځوس |
|---|---|---|
| ګوري | dàṣ- jāṣ<br>دښ- جاښ | du yši -duyšo dàṣ<br>دو یشي – دو یشو دښ |
| پالوري | dàṣ-yakāṣ<br>دښ – یکاښ | do bišā- dobišā dàṣ<br>دو بیشا – دو بیشا دښ |
| دېګاني | dàh- yak dàh<br>ده – یک ده | do biš-do biš dàh<br>دو بیش – دو بیش ده |
| پشه یي | day yāy<br>دی یای | dū yāy- dū yāy day<br>دو یای – دو یای دی |

### په شلونو شمېرنه

د یادولو وړ ده، چې د نالوستو پښتنو په څېر په شلونو شمېرنه هم کوي، لکه:

پښتو    دوه شلې- درې شلې

| | |
|---|---|
| ګوري | do bišā – ɀe bišā |
| | دو بیشا - شې بیشا |
| پالوري | do biši -ɀe ši |
| | دو بیشي - شې شي |
| دېګاني | do biš- ṭā biš |
| | دو بیش – ټا بیش |
| پشه یي | dū wizgi -ɀe wizgi |
| | دو ویزګي شې ویزګي |

## پوښتنومځري

پوښتنومځري (استفهامي ضميرونه) د پښتو په څېر په داردي ژبو کښې هم ځینې پېچلتیاوې لري لکه:

| پښتو | ګوري | پالوري | دېګاني | پشه یي |
|---|---|---|---|---|
| څوک راغې؟ | kāra ayā? | kū wālo? | kān ayā? | kay ık? |
| چاوویل؟ | kin jàwūn? | ki mino? | Ki asū? | ki may gin? |
| کوم یو؟ | kāri yak? | kū dik? | ............. | kū ti Ie? |
| کله راغې؟ | kol ayās? | kare wālo? | kawəl ayə? | kū dan Ik? |
| چېرې لاړ؟ | kine gə? | kine go? | Ki jan gāw? | coy gā gik? |
| څه یې وویل؟ | ki jàwūs? | gha mino? | kū šay acànāw? | kayk megən? |
| څو کسه راغلل؟ | kata zan āyàt? | kate jane wāle? | kāw napar Inč? | kate kasān ayā? |
| څومره کسان وو؟ | kata zan bot? | kate jane ale? | ............... | kaw nafar Inč? |
| ولې دې وواهه؟ | kayā gam jito? | gišay te rukilo? | ............... | kande h(a)nagay? |

دواړه ژبې وییکنومځري (اداتي ضمیرونه) لري لکه: پکښې، لاندې، باندې، ترې، پرې او ...

| پښتو | ګوري |
|---|---|
| پکښې پروت و. | pəke pesān būwà. |
| د مېز لاندې پروت و. | meza na patay pesān būwà. |
| د مېز لاندې پرته وه. | meza na patay pesān boy. |
| په چوکۍ باندې ناست و. | čawkəya ratay nišisān būwà. |
| په چوکۍ باندې ناسته وه. | čawkəy rate nišisān boy. |

| پښتو | پالوري |
|---|---|
| پکښې پروت و. | parati go ali. |
| د مېز لاندې پروت و. | meze tope alo. |
| د مېز لاندې پرته وه. | meze tope ali. |
| په چوکۍ باندې ناست و. | čawkəy rate biṭālo. |
| په چوکۍ باندې ناسته وه. | čawkəy rate biṭāli. |

| پښتو | پشه يي |
|---|---|
| پکښې پروت و | kočay čan(d)à wāše. |
| د مېز لاندې پروت و. | mezas lenay kočay čan(d)à wāše. |
| د مېز لاندې پرته وه. | mezas lenay kočay čan(d)à wiayč. |
| په چوکۍ باندې ناست و. | čawkis šerəy newà ɪyik. |
| په چوکۍ باندې ناسته وه. | čawkis šerəy newà Iyič. |

داردي ژبې اړيکنومځري(ارتباطي نومځري) هم لري، لکه:

پښتو: چې زه ورغلم هغه نه و.

ګوري: ل͞i àngaymi se nə būwà. پالوري: mā goy si nə alo.

دېګاني: ...................... پشه يي: mam pā wāgem se neik.

د داردي ژبو ناټيکنومځري(ابهامي ضميرونه) په لاندېنيو جملو کښې ګورو:

پښتو: هر څېرته سړي شته

ګوري: har kini manūṣān tanit. پالوري: har kine manūṣà hini.

دېګاني: har jāyà manūšā tay. پشه يي: har čo adimi āyʊnk.

## جنس:

داردي ژبې د پښتو په څېر د جنس له مخې ښځينه - نرينه لري او خنثې نۀ لري. په دې مقاله کښې ناشونې ده چې د کونړ په ټولو داردي ژبو کښې د جنس مسأله وڅېړل شي؛ نو يواځې د بېلګې په توګه په دوو داردي ژبو يعنې پالوري او ګوري کښې جنس څېړو.

## نرينه نوم نخښې:

| | يوګړي | | دېرګړي | |
|---|---|---|---|---|
| پښتو | پالوري | ګوري | پالوري | ګوري |

سپې: کوچورو (kočoro) ښونا (ṣūnā) کوچورې (kočore) ښونا نام (ṣūnā nām)

سېرلې: بیرو (biro) لوښه (lawṣa) بیرې (bire) لوښه نام (lawṣa nām)

هلک: پو (po) ټیکوره (ṭikūrə) جته کا (jatakā) ټیکوره نام (ṭikūrə nām)

خر: ګدړو (gadaṛo) ګدا (gadā) ګدړې (gadaṛe) ګدا نام (gadā nām)

ګیدړ: لومبړو (lūmbaṛo) شال (šāl) لومبړې (lūmbaṛe) شال نام (šāl nām)

برغولې: سرپوښې (sarpoṣay) اوپانهٔ (opānə) سرپوښې (sarpoṣayà اوپانهٔ نام (opānə nām)

خوسې: باڅو ( bāco) ایڅونډهٔ (ɪconḍə) باڅې (bāce) ایڅونډهٔ نام (ɪconḍə nām )

پیشو: پیشي ( piši ) پیسانسهٔ (pisānsə) پیشییه (pi šiyà) پیسانسهٔ نام (pisānsə nām)

جامې: کوچه ره (kočarà) څیکهٔ (cikə) کوچه ره (kočarà) څیکهٔ نام (cikə nām)

دېوال: دوسي (dūsi) ډیانډهٔ (dyānḍə) دوسې (dūsay) ډیانډهٔ نام (dyānḍə nām)

سر: ښیښ (ṣiṣ) ښوټهٔ (ṣawaṭə) ښیښه (ṣiṣà) ښوټهٔ نام (ṣawaṭə nām)

غوږ: کاڼ (kāṇ) کامټهٔ (kāmṭə) کاڼه (kāṇà) کامټهٔ نام (kāmṭə nām)

خسر: شور ( šor ) ګاورهٔ (gāwrə ) شوره ( šorà ) ګاورهٔ نام (gāwrə nām )

لمسې: نواسو (nawāso) نواسهٔ (nawāsə) نواسې (nawāse) نواسهٔ نام (nawāsə nām)

زړ هیړو (hiṛo) هیړهٔ (hiṛə) هیړې (hiṛe) هیړهٔ نام (hiṛə nām)

ګډ: ییړو (yiṛo) ییړهٔ (yiṛə) ییړې (yiṛe) ییړهٔ نام (yiṛə nām)

لاس: هات (hāt) است (ast) هاته (hātà) است نام (ast nām)

غاښ: داند (dānd) دنت (dànt) دانده (dāndà) دنت نام (dànt nām)

پلار: بابو (bābo) باب (bāb) بابې (bābe) باب نام (bāb nām)

ترهٔ: بوړي (bawṛi) داد (dād ) بوړییه (bawṛiyà) داد نام (dād nām )

ور: در (dàr) در (dàr) دره (darà) در نام (dàr nām)

لوے ور: درګاڼ (dàrgāṇ) درګان (dàrgān) درګاڼه (dàrgāṇà) درګان نام (dàrgān nām)

غوایي: ګاُے (gōy) ګا (gā) ګاُیه (gōyà) ګا نام (gā nām)

ورور: براُ (brō) بلیا (blyā) براُیه (brōyà) بلیا نام (blyā nām)

## ښځینه نوم نخښې:

سپی: کوچوري (kočori) کوړاکي (kūṛāki) کوچورے (kočoray) کوړاکي نام (kūṛāki nām)

وزه: چهالي (chōli) هيني (hini) چهالے (chōlay) هيني نام (hini nām)

نجلۍ: پوې (poy) ټيکوري (ṭikūri) پوئې (poyay) ټيکوري نام (ṭikūri nām)

خره: ګدړي (gadaṛi) ګدۍ (gadəy) ګدړې (gadaṛay) ګدۍ نام (gadəy nām)

ګيدړه: لومبړي (lūmbari) شالي (šāli) لومبړې (lūmbaṛay) شالي نام (šāli nām)

کتابچه: کابچو (kıtōbčo) **کتابچه** (kıtabča) **کتابچې** (kıtōbče) **کتابچه نام** (kıtabča nām)

قالينه: قاُلينو (qōino) قالينه (qālina) قاُلينې (qōine) قالينه نام (qālin nām)

پياله: پيالو (piyālo) پياله (pyāla) پيالې (piyāle) پياله نام (pyāla nām)

چڼه: چڼو (čàṇo) چڼه (čaṇa) چڼې (čàṇe) چڼه نام (čaṇa nām)

ولسواله: ولسوالي (wūlaswāli) ولسوالياکي (wūlaswālyāki) (wūlaswālay) ولسوالياکي نام (wūlaswālyākinām)

الوچه: الوچو (alūčo) الوچه (alūčà) الوچې (alūče) الوچه نام (alūčà nām)

مالټه: مالټو (mālṭo) مالټه (mālṭà) مالټې (mālṭe) مالټه نام (mālṭà nām)

کېله: کېلو (kelo) کېله (kelà) کېلې (kele) کېله نام (kelà nām)

باره: بارو (bāro) بارۀ (bārə) بارې (bāre) بارۀ نام (bārə nām)

پايڅه: پايڅو (payco) پاوله (pāwlə) پےڅې (payco) پاوله نام (pāwlə nām)

ونه: جول (jūl) موټۀ (mūṭə) جولے (jūlay) موټۀ نام (mūṭə nām)

تيره: باټ (bāṭ) واټ (wāṭ) باټه (bāṭà) واټ نام (wāṭ nām)

ګوته: انګوړي (angūri) انګوړيک (angūṛik) انګوړی (angūṛay) انګوړيک نام (angūṛiknām)

پښه: کُر (kur) کُر (kur) کوره (kurà) کُر نام (kur nām)

## زما په اند په پالوري ژبه کښې نرينه نوم نخښې څلور دي:

۱- هغه نومونه چې په کانسوننټ پاے ته رسېدلي وي، لکه: کور (ګوش goš)، کتاب (کتاُب kItōb)، قلم (قلم qalàm) مېز (مېز mez)، ور (در dar) لاس (هات hāt)، غوږ (کاڼ kāṇ)، ورمېږ (څټ cəṭ)، سر (ښښ ṣiṣ) او نور.

د زياترو کانسوننټ پای وييونو جمع د ويي په پای کښې د (à) په ورنښلولو سره جوړېږي.

۲- هغه نومونه چې په اوږد واو (o) پاے ته رسېدلي وي، لکه: هلک (پو po)، سپے (کوچورو kočoro)، خر (ګدړو gadàṛo)، ګيدړ (لومبړو lūmbàṛo)، سېرلے (بيرو biro)، زړۀ (هېړو heṛo) پسۀ

(ییړو yiṛo) نیکهٔ (ګن بابو gàn bābo ) او نور.

➢ د (o) پای نومونو د جمع په جوړولو کښې (o) په (e) بدلېږي؛ خو ځینې بېدودې هم لري، لکه po د هلک په معنی په بېدوده ډول د جته کا jatakā ) په بڼه جمع شوې دی.

۳- هغه نومونه چې په (ū) پاے ته رسېدلي وي، که خپل وي او که پور وییونه، لکه: تالو (تالو tālū)، شفتالو(هارو hārū)، الو (alū) او نور.

➢ د (ū) پای وییونو جمع معمولاً تر(ū) وروسته د (wà) په ورزیاتولو سره جوړېږي؛ خو ځینې بېدودې هم لري لکه د (الو) جمع په ګانه(gāàṇ) سره هم جوړېږي یعنې الوګان (alūgāṇà) او بانجڼ (bōnjāṇà).

۴- په(ay) غبرګغږ پاے ته رسېدلي وییونه که خپل وي او که پور، لکه: زمرے(زمرے zmaray)، سرپوښی(sarpoṣay) او نور.

➢ د (ay) پای وییونو جمع په (à) جوړېږي، لکه (zmarayà )، سرپوښی(sarpoṣayà) او نور؛ خو که ویی (i) پای وي، جمع یې په (yà) جوړېږي لکه د ( piši ) او (dūsi) جمع په ترتیب سره (pišiyà) او(dūsiyà).

زما په اند په پالوري کښې ښځینه نوم نخښې څلور او دا دي: هغه نومونه چې (ي i)، (ه a) او (ې əy) پاے وي.

۱- هغه پوروییونه چې په (ې əy) باندې پاے ته رسېدلي، په پالوري کښې هم ښځینه ګڼل کېږي، لکه: چوکی(čawkəy) څپلی(capləy).

۲- هغه پوروییونه چې په (ې e) باندې پاے ته رسېدلي، په پالوري کښې هم ښځینه ګڼل کېږي، لکه: خوږه ولې (xwəẓawəle ).

۳- هغه نومونه چې په (ي i) باندې پاے ته رسېدلي وي که خپل وي او که پور، په پالوري کښې ښځینه ګڼل کېږي، لکه: ښادي(xwəšōli ) وروري(brōgari) بیاتي(byōti) وداني(abōdi) وراني (našilidi).

د یادولو وړ ده چې د ویي په پای کښې(i) په پالوري او ګوري دواړو کښې د ښځینه نومونو تر ټولو لویه نخښه ده.

۴- هغه پورویيونه چې په (o) باندې پای ته رسېدلي وي، په پالوري کښې هم ښځينه ګڼل کېږي، لکه: زانګو(zōngo) درخو(dūrxo) ببو(babo) ښارو(xaro)او نور.

**په ګوري ژبه کښې نرينه نوم نخښې:**

زما په اند په ګوري ژبه کښې نرينه نوم نخښې درې دي:

۱- په /ۀ= ə/ پای ته رسېدلي نومونه نرينه وي، لکه: برغولے (اوپانۀopānə)، سپين (اوزالۀozālə)، خوسے(ايځونډۀcondạə )،باره (بارۀbārə)، پايځه (پاولۀpāwlə)، پيشو (پيسانسۀpisānsə)، ژبړ(پيله pilə )، ټانګو( ټانګوړۀ ṭāngoṛə)، هلک (ټيکورۀ ṭikūrə )، جامې(ځيکۀcikə)، دېوال(ډيانډۀdyānḍə)، پګړۍ(شالۀپانيšālə pāni)، سر(ښوټۀṣawaṭə )، ژبړ (فيلۀfilə )، غوږ (کامټۀkāmṭə)، خسر( ګاورۀgāwrə)، سپرلے(لوښۀ lawàṣə)، ونه (موټۀmūṭə )، لمسے (نواسۀnawāsə )، شين (نيلۀnilə )، زړه (هيړۀhiṛə)، ګډ (ييړۀyiṛə) او نور.

۲- په /کانسوننټ/ پای ته رسېدلي نومونه نرينه وي، لکه: تيږه (واټwāṭ)، لاس (استast)، ګوته(انګوړيکangūṛik)، پښه(کورkur)،غاښ(دنتdànt)، پلار (بابbāb)، ترۀ (داد dād)، ور(درdàr)، لوے ور (درګانdàrgān) او نور.

۳- ځينې په/ا =ā/ پای ته رسېدلي نومونه نرينه وي، لکه: ښونا(ṣūnā) ګدا(gàdā) ګا(gā) او بليا(blyā) او نور.

**زما په اند په ګوري ژبه کښې ښځينه نوم نخښې پنځه دي:**

- /ه = a/ هغه پورويونه چې په(ه) پای ته رسېدلي وي په ګوري کښې هم ښځينه ګڼل کېږي،لکه:کتابچه (kıtabča)قالينه(qālina)پياله(pyāla)چڼه(čaṇa) ولسواله (wūlaswālyāki) وکيله (wakilyāki) الوچه(alūčà) مالټه(mālṭà) کېله(kelà) او نور.

۲- په /ي=i/ پای ته رسېدلي نومونه، لکه: ځمځۍ(daroṭi)نجلۍ(ṭikūri) ښځه(šigāli) خولۀ(ansi) پوزه(nāsi) کاسه (kāṣṭi) وزه (hini)مرغومۍ(čāloki) غوا (heci) مېږه (hiṛi) آسپه (goṛi) بيزوګۍ (makəṛyāki) سپۍ(kūṛāki) معمولاً د/ə/ نرينه نومونو په مقابل کښې ښځينه په/i/ پای ته رسېږي، لکه: ښوټۀ= ښوټي، لوښۀ= لوښي او نور.

د يادولو وړ ده چې په ګوري کښې په (i) سره پای ته رسېدلي نومونه ځينې ښدودی هم لري، يعنې ځينې په (i) سره پای ته رسېدلي نومونه نرينه هم وي، لکه لوړي(làwṛi) د سري او سړو په

معنا نرینه نوم دے۔ دا نوم هم یوګړے او هم ډېرګړے دے۔

۳- په الف =ā/ پاے ته رسېدلي پورويیونه او نور نومونه، لکه: موسکا، الوبخارا، امریکا، لېبیا په ګوري کښې هم ښځینه نومونه دي۔

۴- په /əy/ پاے ته رسېدلي نومونه، لکه: خره gàdəy او پورويونه، لکه: هوسۍ، ښاپېرۍ، والۍ او ...

۵- په/ āy / پاے ته رسېدلي نومونه، لکه: مور(جاےjāy)، خاپوړې(څوپاےcopāy)۔

په ګوري کښې ښځینه نومونه په (a)، (i)، (ā)، (əy) او(āy) پاے ته رسېږي۔

په ګوري کښې د جنس معلومولو یوه لاره دا هم ده چې که نوم ښځینه وي؛ نو فعلي خاتمه یې په(tini) کېږي۔ له دې پرته د ټولو خاتمه په(tinə) کېږي، یعنې نور ټول نومونه نرینه فرض کېږي چې دا ډول فرضونه په پښتو کښې هم وینو، لکه: بیزو، مار، سورلنډے او نور۔

د جنس په اړه یو یادونه ډېره مهمه ده، هغه دا چې د یوې ژبې د جنس سمون له بلې سره حتمي نه دے؛ ښایي یو نوم په یوه ژبه کښې ښځینه او په بلې کښې نرینه وي۔ ځینې ژبې خنثی جنسونه هم لري، چې نه نرینه بلل کېږي او نه ښځینه؛ خو زیاتره ژبې بیا دوه جنسه لري چې نرینه او ښځینه دي؛ نو په داردي ژبو کښې زما په اند خنثی جنس نشته۔

داردي ژبو جنس هم له پښتو ژبې سره کټ مټ سمون نه خوري، د پښتو ډېر ښځینه په داردي ژبو کښې نرینه او د داردي ژبو ډېر نرینه نومونه په پښتو کښې ښځینه دي۔

د ژبو اهمیت ته په کتنې زه خپله لنډه لیکنه په لاندې **وړاندېزونو** نوره هم رالنډوم:

- که کېدے د پېښور پوهنتون پښتو اکېډمي او نورې هغه اکاډمیکې ادارې چې پر ژبو کار کوي، باید د کونړ کم نفوسه ژبې لکه پالوري، ګوري، دېګاني، شوماشتي او کړنګلي دې د جلا جلا رسالو په ترڅ کښې وڅېړي۔
- که کېدے شي د کم نفوسه ژبو د څېړلو لپاره دې د خیبر پښتونخوا او د افغانستان د علومو اکاډمي ژبپوهان هلته او دلته په ګډه کار وکړي۔

# Reference


١ – Mashwanay, Abdul Qayoum, Degāni yā waṭapūri Jəba (Sirana) Da Pashto Seṛano Naṛiwal Markaz, Da Afghnistan da olumo Akadumi, ١٣٩٧, p.٤

٢- Edilman , joy yuspana, Zabanha e Dardic wa Nooristani, mutarajim Janmohammad Nooristani, Akadumi olum e Afghnistan, Markaz e zabanha wa adabyat, Matbaa e Dawlati, Kabul, ١٣٦٤ .p.٧

٣- Taza, Sameullah, Piramon e Zaban e Nooristani, Riyasat e intesharat e kutub e Bihaqi, mutāb e Azadi, Kabul, ١٣٩٠, p. ١٥٣

٤- Liljegren, Henrik. ٢٠١٦. A Grammar of Palula, Studies in Diversity Linguistics Berlin: Language Science Press, p. ٣٨

٥- BUDDRUSS,GEORG. ١٩٦٧. **DIE SPRACHE VON SAU IN OST AFGHANISTAN**, BEITRAGE ZUR KENNTNIS DES DARDISCHEN PHALūRA, IN KOMMISSION I KETZINGER MUNCHEN, p. ٣٥

٦- Abul Fazal, Mulā Adina shah, Gawarbati Dictionary, Arandu, Zilah Chatral, ٢٠١٢, p. ١٠

٧- Form For Language Inishtiuse(FLI)Gawar bati Majmuaa e Alfaz, Kaibar Pashtonkhwa, ٢٠١٩, p. ١٨

٨- Mashwanay, Abdul Qayoum, La Pashto sara da Gawari aw Sawi Jabo partalana ( Sirana) Da Pashto Serano Naṛiwal Markaz, Da Afghnistan da olumo Akadumi, ١٣٩٧, p. ٦٨

٩- Aliphuba e Nooristani, akadumi olum e Afghnistan, Markaz e Zabanha wa adabyat, Departmen Zaban wa Adabyat e Nooristani, Matbaa e Dawlati, Kabul, ١٣٦٨, p. ٧

١٠ -, Aliphuba e Zabane pashayi, Markaz e zabanha wa adabyat, akadumi olum e Afghnistan, , Matbaa e Dawlati, Kabul, ١٣٦٧, p.١٩

١١ - Muslim, Gwalab shsh, Sāwji Akso Qumus, Samar Da Jabo Naṛiwālah Mosisah, ١٣٩٥.

١٢- Mashwanay, Abdul Qayoum, Degāni yā waṭapūri Jəba, Sirana, Da Pashto Serano Naṛiwal Markaz, Da Afghnistan Da olumo Akadumi, ١٣٩٧, p. ١٠٣ aw ١٨٦